مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: محمدسمیع صادق

۲۰۲۵/۰۹/۲۱

# یا اوس یا هیڅ کله نه

## آخري برخه




آیا د اساسي قانون لخوا ورکړل سوي تضمینونه موږ ته دا لاره برابروي چې د خپلي ړغورني لپاره خپلواکه مبارزه وکړو؟ هیڅکله نه!

تضمین، دا جادويي کلمه، زموږ مشران بې سده کړي، د هغوی وجدانونه ئې ګونګ کړي دي.

د دوی په خیالونو کي دوی ته داسي ښکاري لکه د تضمینو ګولی چي به د ملت وژونکو زلزلی درمل سي!

هغه تضمینونه چي دا مشران ئې غوښتنه کوي، او چي د اساسي قانون جوړوونکو له خوا پرې هوکړه سوې، هیڅکله نه سي کولای د جلا ملي حیثیت د له منځه تلو تاوان جبران کړي.

موږ، مسلمانان، باید د دې ځان وژونکي لیونتوب سره تر مرګه مبارزه وکړو.

کوم تضمین کولای سي دا یقیني کړي چي د ټولهند فدرالي اتحاد کي، چیري چي موږ له څلورو څخه یو اقلیت یو، زموږ قرباني کېدل به د اکثریت د هدفونو او ګټو لپاره نه کېږي؟

کوم تضمین کولای سي د دې مخه ونیسي چي زموږ ملت د خپلو ټولنیزو او مذهبي ارمانونو له ماتېدو سره تل د درد او خفګان ښکار نه سي؟

کوم تضمین کولای سي زموږ ملت ته، چي خپل ملي شعور ته راوېښ سوی، د خپل جلا ملي حیثیت د له منځه تلو تاوان ورکړي؟

هر څومره چي دا تضمینونه پراخ او مؤثر وي، زموږ د ملي ژوند حیاتي ارګانونه او ویاړلي سمبولونه لکه پوځ، سمندري ځواک، بهرني اړیکي، تجارت او اقتصاد، اړیکي، پوسته او ټیلیګراف، مالیات او ګمرکات به زموږ په کنټرول کي نه وي، بلکه د فدرالي حکومت په لاس کي به وي، چي حتمي به د هندوانو تر واک لاندي وي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

په داسي حال کي، موږ مسلمانان ځنګه کولای سو خپل ارمانونه ترلاسه کړو که چيري دا ارمانونه، چي حتماً ، د هندوانو له آرمانونو سره په ټکر کي وي؟
د تېري پېړۍ تاريخ په دې برخه کي له نه هېرېدونکو درسونو ډک دئ. آن هغه ځوک چي منډه وهي، دا درسونه لوستلای سي. يوازي يوي بېلګي ته وګورئ: سره له ټولو هغو تضمينونو او ضمانتونو چي موږ ته په تېر کي راکړل سوي، زموږ د ملي ژبي اردو نوم، چي لا هم د دې ستري وچي د عام فهم ژبه ده، د هند د ژبو له رسمي نوملړ څخه پاکه سوې ده. موږ ته يوائي دا پکار ده چي وروستی سرشمېرنيز راپور پرانيزو او دا خبره ثابته کړو.
دا خپله يوه غميزه ده. آيا موږ د لا نور زوال لپاره ټاکل سوي يو؟
خو دا هم د هغو ستر ملي موضوعاتو په پرتله د خاورو د يوې ذرې حيثيت لري، کوم چي زموږ د ملت د ټول راتلونکي او زموږ د ځواک د برخليک سره تړاو لري، نه يوازې په هند کي بلکه په ټوله آسيا کي.
په داسي حقايقو کي، چي هېڅ ځوک ئې رد نه سي کولای، موږ حق لرو پوښتنه وکړو: دا ستره قرباني، د خپل ملي حيثيت پرېښوول، د ځان او خپل نسل غير مسلم واک ته سپارل، ولي او د چا لپاره بايد ورکړو؟
د فدرالي اتحاديي سره يوځای کېدل اسلام او مسلمانانو ته څه ګټه رسولای سي؟ دا زموږ له درکه وتلي خبره ده.
آيا موږ بايد په دار وخېژول سو، يوازي د دې لپاره چي زموږ د مشرانو مخونه ورغورل سي؟
که دا کار د دې لپاره کېږي چي هغه بې بنياده دراوغ ثابت سي چي ګواکي هند يو واحد ملت دئ؟
ايا دا يو غير مشروط سازش ته د رسيدو لپاره دئ، که دا د دې لپاره دئ چي دا خيال پياوړی سي چي د هندوانو ملت پالنه ګواکي د مسلمانانو او هندوانو دواړو د ګټو لپاره کار کوي؟
په دې کچه فکري ګډوډي، خپله يوه مرګوني توکه ده.
موږ په تېرو وختونو کي په زړورتيا سره کړاوونه زغملي دي، هېڅکله مو ږغ نه دئ ايستلی او له خطره نه يو تښتېدلي. خو يوه خبره سته چي هېڅکله به ئې ونه زغمو، هغه زموږ خپله ځان وژنه ده. موږ به خپل ځان د هندو مليتوب د صليب پر ستنه د يوې "هندو خوشحالي" لپاره ونه ځړوو.
ايا موږ ته دا اجازه سته چي له ټولو هغو سياستوالو ، که مسلمان وي، که انګرېز او که هندو، چي د فدرالي اساسي قانون ملاتړ کوي، دا پوښتنه وکړو چي ايا ريښتيا به هم دا غوره وي چي زموږ ملت دي د هغو ټولو ارزښتونو قرباني ورکړي چي اسلام موږ ته په تېرو څوارلس سوو کلونو کي راکړي، يوازې د دې لپاره چي هند يو ملت وګرځول سي؟
ايا انسانيت به له دې ستري قرباني يو څه ترلاسه کړي؟ موږ په ډاډ سره وايو چي په اسلام کي لا هم هغه لرغونی مشعل بل دئ او کي مشران پرې ږدي، نو دا اور د يو روښانه سبا ژمنه لري.
په داسي حال کي چي په اروپا (له روسيي پرته) کي، په نژدې همدومره جغرافيايي مساحت او د هند په شان نفوس کي، تر شپږويشتو ملتونو پوري د يوې ديني، مدني او اقتصادي ټولني په منځ کي د پرمختګ او سوکالی ژوند لري، نو ايا دا ناشوني ده چي په دې ستره وچه کي دوه بشپړ بېلابېل ملتونه، يعني مسلمان او هندو، د ښه ګاونډيتوب، سولي او هوسايني په فضا کي ګډ ژوند وکړي؟ په حقيقت کي دا کار نه يوازي ممکن دئ بلکه خورا اړين او د خير غوښتونکی هم دئ.
خو دا څومره تريخ طنز دئ چي زموږ مشران دومره زړورتيا نه لري، چي ودرېږي او زموږ د سياسي نجات لپاره تر ټولو لږ څه هم وغواړي.
موږ د يوې ستري غميزې سره مخامخ يو، داسي غميزه چي آن د اسلام په اوږده او له پېښو ډک تاريخ کي ئې ساری نه دئ ليدل سوی. دا د کومي فرقي او يا د يوې ټولني د زوال موضوع نه ده، بلکه هغه ستره مسئله ده چي د ټول اسلام د برخليک او د هغو ميليونونو انسانانو ژوند اغېزمنوي، کوم چي تر دا نژدې وختونو پوري د هند د اسلام د عظمت ساتونکي او د هغه د پولو دفاع کوونکي ول. موږ لا هم يو ستر راتلونکی پر وړاندي لرو، ، خو يوازي هغه وخت چي زموږ روح د ټول هند د فدراسيون د تلپاتي غلامی له زنځيرونو ورغورل سي. راځئ چي په دې اړه هېڅ تېروتنه و نه کړو: موضوع اوس ده يا هېڅکله نه. يا به موږ ژوندي پاته کېږو او يا به د تل لپاره نابوده کېږو!
تر څو چي پر خپل ايمان ټينګ پاته يو راتلونکی يوازي زموږ دئ. دا زموږ په برخليک کي نه، بلکه زموږ په خپلو لاسونو کي پروت دئ. موږ ئې جوړولای سو، او که وغواړو، ورانولای ئې هم سو. د تېري پېړۍ تاريخ له ښکارو نښو ډک دئ، نښي چي هېڅکله بل کوم ملت ته په داسي ښکاره توګه نه وې ورکړل سوي.
آيا د تاريخ په پاڼو کي به دا وليکل سي چي موږ د دغو ټولو ښکاره خبرداريو پر وړاندې چوپ پاته سوو، او د خپلو سترګو پر وړاندي مو خپل لرغونی ميراث په خپلو لاسونو کي خاورو ته وسپاری؟
محمد اسلم خان (ختک)د خيبر اتحاديي رئيس (پر دې رسالي بل هيڅ چا لاسليک نه کاوه يعني د چوهدری خبري ئې نه تصديقولې پرته له پښتنو. ژباړن)
رحمت علي (چودري)
شيخ محمد صادق (صاحبزاده)
عنايت الله خان (د چارسدې)
د خيبر اتحاديي منشي

ژباړه: محمدسميع صادق


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ